شتمنۍ
SHTAMANAI

**د ماليې وزير الحاج ملا هدايت الله بدري**

په اسلامي امارت کې مديريت، چوکۍ او منصب امتياز نه دی، بلکې د حساب ورکولو يو ماموريت دی، چې هدف ورڅه د اولس او وطن خدمت کول دي، د افغانستان اسلامي امارت پر همدې اساس اولس ته د ښه خدمت کولو، د اقتصادي معاملاتو د سمولو او د اداري فساد ريښو ايستلو ته ژمن دئ، په هيڅ صورت به چا ته اجازه ورنه کړي، چې اقتصادي ارزښتونه تر پښو لاندې کړي او اداري فساد رامنځته کړي.

شنبه | ٨ محرم /١٤٤٣ ١٥ اسد ١٤٠١ | ٦ آگوست ٢٠٢٢ | سال اول | شماره ٢٥ | ٤ صفحه


# د ماليې وزير د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعې څخه ليدنه وکړه



د ماليې وزارت اړوند د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعه، چې په عصري او پرمختللو چاپي وسايلو سمبال ده؛ د هيواد او سيمې په کچه د چاپي صنعت په برخه کې يوه پېژندل سوې مطبوعه ده. د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعې ياد ارزښت ته په پام د ماليې وزير الحاج ملا هدايت الله بدري له يادې مطبوعې څخه ليدنه وکړه او د مطبوعې مسؤلينو ته يې د چارو د لا ښه والي په برخه کې لارښووني وکړې، د هر ډول همکارۍ ډاډ يې ورکړ او همدا راز يادونه يې وکړه، چې د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعې د عصري تعمير د جوړولو چاري به بيا پيل سي او نوی تعمير به په عصري او اساسي بڼه ورغول سي.

## د اکسوس چينايي کمپنۍ سره د نفت او گازو دولتي شرکت د شراکت قرارداد لاسليک سو

د نفت او گازو د استخراج چينايي کمپنۍ (اکسوس) سره د ماليې وزارت اړوند د نفت او گازو دولتي شرکت له لوري ۲۰٪ شراکت قرار داد لاسليک سو. ياد چينايي شرکت به د معدن وزارت سره د قشقرې د تيلو د استخراج قرارداد کوي چې بيا به د نفت او گازو دولتي شرکت سره په گډه استخراج کوي.



## تعدادی از نمایندگان سکتور خصوصی چین با وزیر مالیه دیدار نمودند



در این دیدار نمایندگان سکتور خصوصی چین برای هرنوع همکاری در بخش های تجارت، صنعت، سرمایه گذاری و سایر بخش ها تعهد نموده و همچنان الحاج ملا هدایت الله بدری وزیر مالیه کشور به نماینده گان سکتور خصوصی چین از ارایه فرصت ها و همکاری همه جانبه اطمینان داد.

## سرمقاله

### د ځان بسياينې او مسلکيتوب پر لور

سره له دې چې د هيواد په اقتصادي او سياسي وضعيت باندې د نړۍ فشارونه پر زياتېدو او دوامداره دي او له اسلامي امارت سره غاړه نه وړي، په داسې حال کې چې اسلامي امارت غواړي د خپلواکۍ په ساتلو سره له ټولې نړۍ سره خپلې اړيکې له ډيپلوماټيکو اصولو سره برابرې جوړې کړي او دغه هيواد له سياسي او اقتصادي لحاظه د سيمې او نړۍ د هيوادونو په قطار کې راسي، ولې ځينې بهرنۍ اوکورنۍ ستونزې سته چې بايد حل او فصل سي؛ خو د افغانانو ارادې ژوندۍ دي او اسلامي امارت د خلکو له سپېڅلو ارادو انگېزه او انرژي اخلي او په پرلپسې د ځان بسياينې او مسلکيتوب پر لوري گامونه پورته کوي، ترڅو يوه مخکښه مسلکي اداره ولري او ورځ تر بلې پر خپلو پښو ودرېږي. دوه اونۍ وړاندې ازبکستان د افغانستان په برخليک ټاکلو او اقتصادي او سوداگريزو اړيکو همدا شان له نړۍ او سيمې سره د افغانستان د سياسي اړيکو ښه کېدو په موخه کنفرانس راوباله، چې څه د پاسه ۲۰ هيوادونو استازو گډون پکښې کړی وو. دغه کنفرانس ته د افغانستان د لوړ پوړو مشرانو، ملي سوداگرو او خصوصي سکټور د استازو ترڅنگ د ماليې وزير الحاج ملا هدايت الله بدري هم ورغلی وو. د ماليې وزارت په استازيتوب د نوموړي ورتگ له کوربه هيواد سره د سوداگريزو او اقتصادي اړيکو د ښه کېدو ترڅنگ د گمرکي معلوماتو شريکولو، راکړې ورکړې او دوه اړخيزه اقتصادي اړيکو پراخولو کې هم گټور تمام سو. په ورته وخت کې د افغانستان د استازو په ورتگ سره د کوربه هيواد او افغانستان ترمنځ پر سوداگريزو اړيکو هم يو شمېر هوکړې او خبرې وسوې، چې په پايله کې د ياد هيواد او افغانستان ترمنځ د سوداگرۍ او راکړې ورکړې کچه هم د پام وړ زياته سوې ده. همدا راز د افغانستان اسلامي امارت د يوه بل گټور گام په پورته کولو سره د اکسوس چينايي کمپنۍ سره د نفت او گازو دولتي شرکت د شراکت قرارداد لاسليک کړ. د نفت او گازو د استخراج چينايي کمپنۍ (اکسوس) سره د ماليې وزارت اړوند د نفت او گازو دولتي شرکت له لوري ۲۰٪ شراکت قرار داد لاسليک سو، چې ياد چينايي شرکت به د کانونو وزارت سره د قشقرې د تيلو د استخراج قرارداد کوي او بيا به د نفت او گازو دولتي شرکت سره په گډه استخراج ته مخه کوي. دا چې افغانستان له جغرافيايي اړخه، د سويلي اسيا، مرکزي اسيا، چين او منځنۍ اسيا کې پروت هيواد دئ او کولای سي دغه ټول هيوادونه له اقتصادي او ټرانزيټي اړخه سره وتړي، له همدې کبله له چين سره د افغانستان د اړيکو ښه کېدل او همدا شان که چيري په راتلونکې کې د (CPEC) په کوريډور کې د افغانستان گډون ممکن سي دغه هيواد به په يوه ستر سوداگريز هيواد بدل کړي. له بل پلوه افغانستان د ۲۳ زره ميگاواټه برېښنا د توليد وړتيالري، چې په دې برخه کې د چين د پانگوني لېوالتيا زياته ده او کولای سي د افغانستان د ښه اقتصادي ملگري په توگه پاتي سي او افغانستان په يوه اوږدمهاله اقتصادي لاره خپل مزل پيل کړي. له چين سره د دا ډول او دې ته ورته هوکړو په ترسره کولو سره به د افغانستان په اقتصاد او نفتي برخه کې تر ډېره بريده په ځان بسيا کېدو او په بازارونو کې د نفتي توکو د بيې په راټيټېدو هم مثبت اغېز وکړي او له دې سره - سره به د هيواد ملي عوايد لوړ کړي. له اقتصادي اړخه را پديخوا د افغانستان ادارې تر خپل ممکن حده د مسلکيتوب پر لوري گامونه پورته کوي، د ماليې وزارت د عوايدو عمومي رياست په يوه اقدام کې د هيواد په څلور ديرش ولايتونو کې څه باندې يو زر (۱۰۰۰) قراردادي بستونه اعلان ته وسپارل، چې وکولای سي مسلکي ځوانان او کدرونه د هيواد په بېلابېلو ادارو کې جذب کړي، د دوی له تجربو او مسلکيتوب څخه به په ښه توگه گټه واخيستل سي او ترڅنگ به يې تر يوه حده د بېکارۍ په راکمولو کې اغېزمن تمام سي او د افغانستان ځوان نسل، مسلکي او تخصصي کدرونه به په هيواد کې د ننه پاتي او د کار زمينه به ورته برابره سي.

درنښت
اداره



**رئیس شرکت استخراج نفت و گاز چینایی (اکسوس) با وزیر مالیه دیدار کرد**

م ٢



**میعاد زمانی ترانزیت خارجی از بندر تورخم الی حیرتان و شیرخان بندر به ۸ روز افزایش یافت**

م ٤



**د تعرفې کمېټې ناسته جوړه شوه**

م ٣



**د گمرکونو لوی رياست سرپرست د رياست الوزرا د اقتصادي معاونيت له سلاکار سره وکتل**

م ٢



**په کندهار ولايت کې د اوبو رسولو پروژه گټې اخيستني ته وسپارل سوه**

م ٢

# رئیس شرکت استخراج نفت و گاز چینایی (اکسوس) با وزیر مالیه دیدار کرد



در این جلسه قرارداد مشارکت ۲۰ درصدی شرکت چینایی مذکور با شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان نهایی شد و وزیر مالیه رسماً دستور امضای قرارداد را داد. قرارداد استخراج نفت از قوشقره به شرکت چینی ذکر شده سپرده شده است که با مشارکت ۲۰ درصد شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان به طور مشترك از چاه های قوشقره نفت استخراج می کند.

## په کندهار ولايت کي د اوبو رسولو پروژه گټي اخيستني ته وسپارل سوه



د کندهار په نهمه ناحيه کي د پاکو اوبو رسولو يوه لويه پروژه گټي اخيستني ته وسپارل سوه، د کندهار د پاکو اوبو رسولو او فاضلابو رياست په هلو ځلو او د ICRC په مالي ملاتړ څو مياشتي مخکي د کندهار په نهمه ناحيه کي د پاکو اوبو رسولو يوې لويي پروژې کارونه پيل سوي وه، چي نن د چهارشنبې په ورځ رسماً د پټې په پرېکولو سره گټي اخيستني ته وسپارل سوه.

د کندهار زون د ښاري اوبو رسولو او فاضلابو رياست رئيس انجنير جانان آغا خالد وايي ددې پروژې په گټي اخيستني سره به د سيمي ۳٦۰۰ کورنيو ته د څښلو پاکي اوبه ورسيږي. تر دې وړاندې دغي سيمي ته د څښلو اوبه د ټانگرو په واسطه را وړل کېدې او د يوه ټانگر اوبو بيه ۱۵۰۰ افغانۍ وه. د دې پروژې په گټي اخيستنې سره به د اوبو د کښت ستونزه هواره سي.

## سيگتاسSIGTAS يا د دولت د مالياتي ادارې هر اړخيز معياري سيستم

سيگتاس يا (د دولت د مالياتي ادارې هر اړخيز معياري سيستم) د افغانستان په برېښنايي حکومتولۍ کي له مهمو او کليدي سيستمونو څخه دی. ياد سيستم چي د عوايدي چارو د هر اړخيزو ماډيولونو ټولگه ده، چي ټولي مالياتي چارې د يو واحد او جامع معلوماتي سيستم له لاري په اتومات ډول محاسبه کوي، چي د مالياتو راټولولو، د مالياتي قوانينو پلي کولو، تنظيم، کنټرول او راپور ورکولو برخو کي په نړيوالو معيارونو سمبال برېښنايي سيستم دئ، چي د هېواد په مالياتي سکټور کي ترې په شفافه او چټک ډول گټه اخيستل کيږي.

د سيگتاس سيستم لاندي دندې ترسره کوي:

١. د مالياتي قوانينو يو شان پلي کول؛
٢. د مالياتي اداري معياري کول؛
٣. د مالياتي حسابونو جوړول؛
٤. د مالياتي اسنادو ثبت او ماليه ورکوونکي ته دوسيه جوړول؛
٥. د اظهارليک چاپول؛
٦. بررسي او د ورځنيو عوايدو راپور ورکول؛
٧. اداري راپور ورکول؛
٨. د جعل، تذوير او کتمان مخنيوی؛

سيگتاس د فساد په مخنيوي کي مثبت ثابت شوی دئ، چي په نړۍ کي تر ۲۵ زيات پرمختللي هېوادونه گټه ترې اخلي او همدارنگه د انگليسي نړيوالي ژبي تر څنگ په پښتو او دري هم د کاروني وړتيا لري.

سيگتاس سيستم په انلاين ډول ماليه ورکوونکو ته برېښنايي اظهارليك (E-Filing)، د ماليه ورکونکي پيژندني شمېره (TIN) او د ليکونو پېژندني آنلاين سيستم(E-Letters) برخو کي خدمات وړاندي کوي.

د يادوني وړ ده، چي سيگتاس سيستم د نورو دولتي ادارو له سيستمونو سره د وصل کېدو وړتيا هم لري، چي اسيکوډا (ASYCUDA) يا د گمرکي معلوماتو اتومات سيستم، د افغانستان بانک له بين البانکي تادياتو (ATS/APS) سيستم، د کانونو او پطروليم وزارت، د ملی تدارکاتو سيستمونو سره وصل دي او د دې ترڅنگ د صنعت او سوداگرۍ وزارت د جوازونو سيستم، د احصايې او معلوماتو د تذکرو سيستم او نورو بيلابيلو اداراتو سره به ډېر ژر وصل سي.

هېره دي نه وي، چي ياد سيستم قدرمنو ماليه ورکوونکو ته د نورو اسانتياوو ترڅنگ ۲۴ ساعته انلاين خدمات هم وړاندي کوي.

**گام پر گام د برېښنايي حکومتولۍ پر لور**

## د ننگرهار او کندهار گمرکونه دي ۲۴ ساعته فعاليت وکړي




د ماليې وزارت د عوايدو او گمرکونو معين الحاج ملا محمد ناصر اخند د ننگرهار او کندهار د گمرکونو مسؤلينو ته هدايت ورکړی، چي سوداگرو ته د اسانتياوو رامنځته کولو او په پرلپسې توگه هيواد ته د اړينو توکو د صادرولو او واردولو په موخه دي ياد گمرکونه په ۲۴ ساعته توگه په دوه شفټونو کي پرانيستي وي. د دې ترڅنگ د همدې هدايت په يوه بله برخه کي د خوست ولايت د غلام خان چك پوسټ او پکتيا ولايت د ډنډپټان چك پوسټ مسؤلينو ته ويل سوي، چي سوداگرو ته د لازمو اسانتياوو برابرولو په موخه دي ياد چك پوسټونه ۱۲ ساعته خدمتونه وړاندي کړي او همدا راز اړوندو مسؤلينو ته په هدايت کې ويل سوي، چي د بار وړونکو وسايطو په تگ او راتگ کي دي تعادل په پام کي ونيسي. د يادونې وړده، چي د ماليې وزارت مشرتابه ملي سوداگرو ته د اسانتياوو برابرولو په موخه وخت نا وخت د گمرکونو له مسؤلينو سره ويني او د هر راز سهولتونو برابرولو زمينه ورته برابروي.

SHTAMANAI

## د ماليه ورکونکيو د خدمتونو رياست د ايجاد خبرتيا!

د ماليې وزارت اړوند د عوايدو لوی رياست د ټولو لويو، منځنيو او کوچنيو ماليو تاديه کوونکيو ته په خورا درنښت خبر ورکوي، چې د دغه رياست په تشکيلاتي جوړښت کې د ځينو بدلونونو په راتلو سره د ماليه ورکوونکيو د خدمتونو رياست ايجاد او فعاليت يې پيل کړی او د دغه رياست دنده دا ده چې د لويو، منځنيو او کوچنيو ماليه ورکوونکيو شرکتونو لپاره معياري خدمتونه ترسره کړي. نو ټول هغه قدرمن ماليه ورکوونکي چې پخوا به د خپلو ماليو د تصفيې لپاره د لويو، منځنيو او کوچنيو ماليه ورکوونکيو رياستونو ته مراجعه کوله، تر دې وروسته د منځنيو ماليه ورکوونکيو رياست پخوانۍ ودانۍ ته چې د ملي بس تصدۍ تر څنگ موقعيت لري او په يوه واحد نامه (د ماليه ورکوونکيو د خدمتونو رياست) سره يادېږي، مراجعه وکړي او خپلې مالياتي چارې دې پر مخ يوسي. د لا زياتو معلوماتو لپاره د ماليې وزارت او د عوايدو لوی رياست اړوند ويب سايټونه او ټولنيزې پاڼې (فېسبوك، ټويټر او يوټيوب) کتلای شئ.

## د گمرکونو لوی رياست سرپرست د رياست الوزرا د اقتصادي معاونيت له سلاکار سره وکتل



د گمرکونو لوی رياست سرپرست ښاغلي مفتي عبدالمتين سعيد نن د گمرکونو او عوايدو معينيت د غونډو په تالار کې د رياست الوزرا د اقتصادي معاونيت له اقتصادي سلاکار ښاغلي حاجي ابراهيم حکمت سره وکتل. په دې کتنه کې چې د گمرکونو لوی رياست مرستيالانو او يو شمېر رئيسانو هم گډون کړی و، دواړو لوريو د افغانستان د سوداگرۍ په اوسني وضعيت، په گمرکونو کې په شته ستونزو او حل لارو، په گمرکونو د نورو اړوندو ادارو په کړنو او يو شمېر نورو موضوعاتو بحث او د نظرونو تبادله وکړه. پريکړه وشوه چې د گمرکونو لوی رياست دې په هيواد کې د سوداگرۍ د لا ودې لپاره طرح جوړه او د منظورۍ لپاره دې د اقتصاد عالي کمېسيون ته واستوي.

ژباړه: حمیدالله حمیدي

# له کوره پیسې وګټئ



کېدای شي دایمي دنده مو ښه او په زړه پورې وي، مانا دا چې له هره اړخه پر شرایطو برابره وي، خو اوس چې نوې تکنالوژۍ هر څه ته لاس رسی اسانه کړی دی کېدای شي له رسمي وخت پرته، په کور کې هم ځینې کارونه تر سره کړئ او ډېرې پیسې تر لاسه کړئ. د دې کار لپار اړتیا نشته، چې اوسنۍ دنده مو پرېږدئ. ډېری د مازدیګر له پنځو بجو وروسته چې په رسمي دنده کې خپل کمپیوټر وتړي په ځینو داسې شیانو ځان بوختوی، چې ګټور نه وي، خو بریالي کسان، له رسمي کار وروسته په کور کې هم د ځان لپاره داسې یوه بوختیا پیدا کوي، چې هم یې ګټه وي او هم یې وړتیاوې لوړې کړې وي. هغه کسان چې له کار سره عادت شوي وي، په کور کې پرې وخت سخت تیرېږي، نو دا یې تر ټولو ښه لار ده. که غواړئ چې تاسو یې هم پیل کړئ، لومړی مو د کار ډول معلوم کړئ، څه ډول کار تر سره کولی شئ. لاندې دې هم د ځینو اسانه او داسې کارونو یادونه شوې ده چې امکان یې بیخي ډېر دئ.

**۱- وړتیاوې مو خرڅې کړئ او ګټه ترې پورته کړئ:** خپلې ټولې وړتیاوې مو په یوه الکترونیکي کتاب کې راټولې کړئ او پر هغه کسانو چې غواړي زده یې کړي او مهارتونه یې لوړ شي خرڅې کړئ. که مو هغه وړتیاوې چې په کتاب کې مو را ټولې کړې دي ګټورې وي او د دې چل مو هم زده وي، چې پېرودونکي څه ډول راجلب کړئ، ډېره ګټه به مو کړې وي. تاسو که د هرې برخې مسلکي یاست، شته داسې کسان چې پیسې درکړي او یو څه درڅخه زده کړي. که مو وړتیاوې داسې څه وي، چې په الکترونیکي کتاب کې یې د راټولولو امکان نه وي، انلاین دورې جوړې کړئ او شریکې یې کړئ. کله چې تاسو یوه الکترونیکي محتوا جوړوئ کولی شئ، بیا بیا یې وپلورئ او ګټه تر لاسه کړئ. دا داسې کار دی، چې هېڅ ډول پوله نه لري او له مصرف پرته یې کولی شئ.

که په مستقیم ډول یې د خرڅولو وړتیا نه لرئ، شته داسې سایټونه چې د خرڅلاو په برخه کې یې در سره مرسته وکړي.

**۲- د ټولنیزو شبکو مدیریت پر غاړه واخلئ:** په ډېر احتمال سره اوس به هم په کور کې ډېر وخت په ټولنیزو شبکو کې تېروئ، نو چې هلته یاست ولې بیا له دې تخصص څخه ګټه نه پورته کوئ او پسې نه ګټئ؟ ډېری شرکتونه غواړي په ټولنیزو شبکو کې پراخ حضور ولري او د دې کار کولو لپاره خلکو ته اړتیا لري. د دې کار لپاره ښه خبره دا ده چې له ځینو پلټفرم لکه (هوت سوت) څخه کار واخلئ. دا پلټفرم اجازه درکوي، چې پر یو وخت څو اکونټونه منېج کړئ او د پوسټونو خپرېدو لپاره مهال وېش په کې جوړ کړئ.

**۳- لیکنې او ژباړې وکړئ:** لیکنې او ژباړې کول د پیسو لاسته راوړلو لپاره تر ټولو ښه لاره ده. زرګونه لیکوالان او ژباړونکي د ورځې د سفر، اشپزۍ، د ماشوم روزلو، هنر، د ژوند لارو چارو او نورو په اړه لیکنې او ژباړې کوي. دا هم ډېر سخت کار نه دی، تاسو په هر ځای او هر وخت کې دغه کار کولی شئ. له خدمت او شهرت سره سره به مو یو څه پیسې هم ګټلې وي.

**۴- ډیزان زده کړئ:** د ګرافیک ډیزان زده کول مو په هر ځا کې په درد خوري. په یوازې ځان یې هم زده کول څه سخت نه دي او بل دا چې په بازار کې نن سبا د هر ډول پروګرام د زده کړې لپاره ویډیوي درسونه شته چې کار یې بیخي اسانه کړی دی. هر څه یوازې ستاسو په مینې پورې اړه لري، که غواړئ همدا اوس یې پیل کړئ. ان که اوس له دې کاره پیسې تر لاسه نه شئ کړای، خو ډاډه اوسئ چې په ورځنیو چارو کې در سره ډېره مرسته کولی شي.

**۵- اپلیکېشنونه جوړ کړئ:** د هر کار لپاره له دې وروسته اپلیکېشن اړین دی، که تاسو نن دغه کار ونه کړئ، نو ډاډه اوسئ چې سبا یې بل څوک کوي. د اپلیکېشنونو جوړول یو نوی صنعت دی چې د پرمختګ په حال کې دی. د څېړنو له مخې یوازې په ۲۰۱۴ کال کې ایفون کمپنۍ د اپلیکېشن جوړولو په برخه کې ۴۰۰۰ کسان پر دنده ګمارلي و. کېدای شي د کوډونو لیکل په لومړي سر کې یو څه سخت وي، خو کله مو چې پروګرام لیکل زده کړل، کولی شي په اسانۍ سره اپلیکېشن ولیکئ او خرڅ یې کړئ. کېدای شي همدا درته د یوه لوی کارو بار پرانیستلو لپار دروازه شي.

## د تعرفې کمېټې ناسته جوړه شوه



د تعرفې کمېټې ناسته د ګمرکونو او عوایدو معین ښاغلي ملا محمد ناصر اخند په مشرۍ تېره ورځ د یاد معینیت د غونډو په تالار کې جوړه شوه. په دې ناسته کې چې د تعرفې کمېټې غړو تر څنګ د ګمرکونو لوی ریاست سرپرست ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید او د مالیې وزارت مقام سلاکار ښاغلي خلیل صالحزاده هم ګډون کړی و. په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست وویل او د تعرفې کمېټې د ارزښت بیانولو تر څنګ یې وویل چې د تعرفې کمېټې پریکړې په سوداګرۍ، داخلي صنعت، عامه خلکو او د حکومت په عوایدو باندې مستقیم اغیز لري نو په کار ده چې د دې کمېټې ټولې پریکړې په پوره دقت سره ونیول شي. له اجنډا سره سم د ګمرکونو لوی ریاست د تعرفې رئیس د شوکانې او سرب نیمه قیمتي ډبرو د صادراتي تعرفې، د وارداتي بادامو د موسمي تعرفې، د ماشیني قالینو، د لاسونو او کالیو وینځلو د موادو، خام پاپړ او د موټر سایکلونو پرزو د وارداتي تعرفو په اړه هر اړخیز معلوماتي پریزنټیشن وړاندې کړ او د یادو اقلامو د تعرفې په اړه یې د سوداګرو او صنعتکاراتو غوښتنې د غونډې له ګډونوالو سره شریکې کړې. د تعرفې کمېټې غړو د یادو اقلامو په تعرفې هر اړخیز بحث وکړ

# اعلان داوطلبی

**به اعلان سپردن ٤ جایداد دولتی واقع ساحات مختلف ولایت کابل**

قرار است ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه یک تعداد جایدادهای دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود.

۱-جای یکباب کانتینر بمساحت ۱٦,۸۰ مترمربع واقع نساجی بگرامی ناحیه ۱٦ ولایت کابل.

۲-یکباب کانتین بمساحت۱۷,۵ مترمربع واقع داخل محوطه پوهنتون علوم طبی کابل ناحیه سوم.۳-یکباب مارکیت تجارتی بمساحت۱۱۱۲,۳٤ مترمربع واقع سینما پامیر ناحیه اول شهر کابل

٤-یک باب مغازه نمبر۵ بمساحت۳۲۳ مترمربع واقع خوشحال خان ناحیه ۵ ولایت کابل

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، می توانند از تاریخ ۹ اسد الی مدت (۱٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

**به اعلان سپردن ۲ جایداد واقع داخل محوطه پوهنتون کابل.**

به ریاست محترم آگاهی عامه !

قرار است ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دو جایداد دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود که مشخصات آن قرار ذیل است.

۱- یکباب کفتریا به شمول ساحه سبز آن به مساحت(۳۹٦٤) مترمربع واقع داخل محوطه پوهنتون کابل ناحیه سوم.

۲-یکباب کانتین بمساحت ۱۳٤ مترمربع وقع جوار پوهنحی شرعیات پوهنتون کابل ناحیه سوم.

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراک در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، می توانند سر از تاریخ۱۳اسد الی مدت (۱٤) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاک دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر ، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعداز ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

شتمنی SHTAMANAI

## میعاد زمانی ترانزیت خارجی از بندر تورخم الی حیرتان و شیرخان بندر به ۸ روز افزایش یافت




به اساس تصمیم رهبری ریاست عمومی گمرکات و منظوری مقام معینیت عواید و گمرکات میعاد زمانی ترانزیت خارجی از بندر تورخم الی حیرتان و تورخم الی شیرخان بندر به ۸ روز افزایش یافت.

مطابق طرزالعمل ترانزیت خارجی میعاد زمانی ترانزیت خارجی از بندر تورخم الی گمرک های متذکره ۵ روز تعیین شده است که نظر به درخواست های مکرر تجار و مشکلات در راه سالنگ این میعاد زمانی به ۸ روز افزایش یافت.

**د امتیاز خاوند:** د مالیې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوی:**
ندا محمد صدیقي
عبدالرحمن سجاد
ابراهیم گران
اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري

د مالیې وزارت د لاسته راوړنو، خبرونو، کنفرانسونو، خبرتیاوو، غونډو، داوطلبۍ اعلانونو، د املاکو د قراردادونو او نورو مالیاتي مسایلو څخه د خبرېدا لپاره لاندې آدرسونه کتلای سئ:

**ویبپاڼه:** mof.gov.af
**ټویټر:** @afghanistanmof
**یوټیوب:** afghanistan mof
**فیسبوک :** د مالیې وزارت، وزارت مالیه

نویسنده:
محمد احسان
نکته دان



# اثرات تفتیش بر تزیید و جمع آوری عواید

مقدمه :

عواید و مالیات داخلی در واقع عامل حیاتی یک حکومت یا نظام است. زیرا بدون عواید کافی نمی توان خدمات مبرم را به جامعه فراهم و برای طویل المدت سرمایه گذاری نموده برای پیشرفت جامعه اقدامات لازم را روی دست گرفت. روی این ملحوظ، سازمان ملل متحد از کشور های رو به انکشاف می خواهد که دست کم ۲۰٪ مالیات را در عواید داخلی خود بیفزایند. بنابران دولتها همواره تلاش به خرج میدهند تا ضرورتهای مبرم کشور شانرا از راه جمع آوری عواید داخلی خویش تکافو نمایند، و برای بدست آوردن این مأمول در جمع آوری عواید داخلی خویش مداخله صریح می نمایند ولی با وجود آن قسمت زیاد عواید وضع شده بالای مردم مطابق با قوانین نافذه جمع آوری ناشده باقی می ماند. از جمله تدابیری که روی دست گرفته می شود، اجرای تفتیش است که این امر باعث ازدیاد عواید شده، در جمع آوری عواید به صورت شفاف نقش بسزایی دارد که در این مقاله راقم در پی اثبات آن بوده خواهیم دید که چگونه تفتیش می تواند در تزیید عواید ممد واقع شود. در ابتدا اقدامات لازمی را که برای جمع آوری کامل عواید بالقوه لازم است به تحلیل گرفته، سپس اثرات عدم جمع آوری عواید بالقوه را تذکر داده به عوامل ناکامی جمع آوری عواید بالقوه پرداخته در پی آن اثر تفتیش را که هدف این مقاله را تشکیل می دهد به بررسی می گیریم و در پایان از بحث های خویش نتیجه گیری می نماییم



**اقدامات لازم برای جمع آوری کامل عواید بالقوه**

حکومت ها اقداماتی را روی دست می گیرند تا ضریب مالیاتی را ازدیاد بخشیده و وابستگی به کمک های مالی را کاهش بخشند. این اقدامات مشمول آگاهی دهی مؤدیان از راههای گوناگون؛ چون گفتگو و مباحثات با مالیه دهندگان و مؤدیان مالیات، سهم داران شرکت ها، دایر نمودن سیمینار ها، تفتیش و بررسی امور مالیاتی مؤدیان، کار کرد مسؤولین جمع آوری مالیات و سایر شیوه ها می باشد تا مالیه دهندگان را به تحرک واداشته از فرار مالیاتی و عدم پرداخت مالیات اجتناب ورزیده به صورت رضاکارانه به پرداخت مالیات خویش بر وقت و به صورت شفاف اقدام نموده سهم خود را در توسعه و انکشاف ملی ادا نمایند.

در ضمن آنچه تذکر رفت برای جمع آوری عواید سهولت های فراوانی را نیز فراهم می سازند که این سهولتها نیز مشمول کاربرد وسایل الکترونیکی؛ چون خانه پری الکترونیکی اظهار نامه ها، پرداخت های الکترونیکی، تصفیه الکترونیکی وجایب مالیاتی، ماشین های صدور صورتهای حساب و ثبت و راجستر آنلاین می باشد که هدف از آن ساده سازی روند پرداخت مالیات و به حد اقل رساندن هزینه و جلوگیری از ضیاع وقت مؤدیان در جهت ارایه اظهار نامه و سایر امور مالیاتی و افزایش عواید می باشد. در کشور عزیز ما در دوره های گذشته، برای جمع آوری عواید به صورت شفاف اقداماتی روی دست گرفته شده است که به عنوان مثال می توان وضع قوانین مالیاتی و ریفورم مالی را نام برد. اما متأسفانه چونکه نیتها فاسد بود این اقدامات نه تنها اثرات چشمگیری نداشته؛ بلکه مودیان را در پرداخت ذمت مالیاتی شان بیشتر جرأتمند ساخته به نسبت فساد گسترده ای که در صفوف کارمندان وجود داشت، باعث سلب اعتماد مردم از دولت وقت شده بود که مردم پرداخت مالیه را یک نوع باج پنداشته به هر صورت ممکن تلاش به خرج می دادند تا از پرداخت آن شانه خالی کنند. از نظر راقم این سطور اقدامات لازمی که برای جمع آوری کامل عواید بالقوه که برخی آن در فوق تذکر یافت بهتر است که در ضمن، اشخاص مخلص و صادق و مسلکی را در کار جمع آوری عواید گماشته و از کارکرد ایشان گاه و ناگاه نظارت به عمل آورده در صورت شفافیت در کار، اصل مکافات و مجازات به صورت عادلانه رعایت شود و از طرف دیگر باید برای مالیه دهندگان عملا اطمینان داده شود که مالیات ایشان بیجا نرفته بلکه برای ارایه خدمات به مردم هزینه می شود.

**اثرات عدم جمع آوری عواید بالقوه به صورت کامل**

اثرات منفی ای که در اثر عدم جمع آوری عواید بر اقتصاد کشور وارد می شود به هیچ کسی پوشیده نیست. بسیاری کشور های پیشرفته هم از این اثرات منفی مصؤن نمانده از اثر تهیه و تدارک ناکافی منابع داخلی رنج می برند. با وجود تلاشهای زیاد، بسیاری کشور ها در بلند بردن سطح عواید کافی خویش برای تمویل بودجه دولت وحمایت نیاز های انکشافی کشور شان ناکام شده اند. این عدم توانایی یک مانع بزرگ در برابر عملیات منظم دولت و توانایی رشد اقتصادی است. عدم جمع آوری عواید به صورت شفاف و کامل باعث کاهش انکشاف منابع بودجوی شده ناکامی حکومت را در قبال تعمیل پالیسی ها و برنامه ها و ارایه خدمات عامه به بار می آورد. همچنان کسر غیر متوقع عواید باعث کسر بودجه شده منتج به عدم کفایت در مدیریت هزینه عامه می گردد که در همچو صورت حکومت وادار می شود تا رو به قرضه های سنگین اورد که آنهم عاری از زیانهای جبران ناپذیر؛ از قبیل پرداخت سودهای کمرشکن و پذیرش خواستهای وام دهندگان نیست.



همچنان در صورت عدم کفایت عواید داخلی، نظام وادار به دراز نمودن دستهای گدایی به سوی کشور های متمول شده زیر بار منت آنها روند.

**عوامل ناکامی جمع آوری عواید بالقوه**

کشور های زیادی با وجود فراهم بودن زمینه مساعد برای جمع آوری عواید، نتوانسته اند تا تمام نیاز های مالی خویش را از منابع داخلی خویش تأمین نمایند و همواره بر منابع مالی بیرونی؛ از قبیل قرضه و کمک های خارجی به نسبت توانایی ناچیز مدیریت مالی و عدم توانایی جمع آوری عواید، اعتماد و اتکا دارند. در حقیقت ضعف در مدیریت عواید منتج به جمع آوری نامناسب عواید می شود. تمویل کسر بودجه از راه قرضه و یا انکشاف پولی باعث ازدیاد ناپایدار در قرضه و انفلاسیون دولت می گردد. همین گونه عواید بسیار ناچیز داخلی، مشکل بسیاری کشور های در حال توسعه جهان می باشد. این امر باعث می شود کشورها برنامه های پیش بینی شده خود را لغو نمایند؛ زیرا توانایی تمویل پروژه های دولتی را از دست می دهند و نمی توانند آنرا از راه عواید داخلی خویش تمویل کنند. همین گونه با وجود رشد اقتصادی سریع به همین مشکل مواجه می باشند که به عنوان مثال کشور های یوگندا، کینیا و افریقای جنوبی را می توان نام برد. این یک حقیقت است که عامل مهم ناکامی جمع آوری عواید بالقوه ارتباط مستقیم به سیستم مدیریت مالیاتی دارد که از عدم پیگیری مناسب مالیه دهندگان راجستر شده برای مالیات داخلی و شگاف عمیق در دیتابیس های موجود مالیه دهندگان، ناکامی در ثبت برخی مالیه دهندگان که تا اکنون اداره مالیاتی از وجود شان آگاهی ندارد، و ناکامی اینکه از بسیاری اظهار نامه ها تصدیق نماید و عدم آگاهی از کسانی که تا اکنون اظهار نامه خویش را ارایه نکرده اند یا از زمانی که مالیات شان ثبت و راجستر شده است غیر فعال باقی مانده اند، ناشی می شود.

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت سره سمې وي.
له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.